# د هغو خلکو لپاره د جرمي سوابقو بررسي کول چې په رضاکارانه ډول کار او دندې غواړي

زموږ د معلوماتو په پاڼه کې «د کار د غوښتونکو او رضاکارانو لپاره د هغوی د بګروند د چکولو پېژندنه» موږ دا واضيح کړه چې ولې سازمانونه بايد په هغه صورت کې بګروند چک ترسره کړي، چې که چېرې تاسو له دې وړاندې کوم جرمي سوابق ولرئ چې  دندې يا رضاکارانه رول لپاره وړاندېز وکړئ او د افشا کولو او مخنيوي د خدمتونو (Disclosure and Barring Service, DBS)په اړه چې په انګلستان کې د چک د ترسره کولو مسوليت لري.

دغه معلوماتي پاڼه د چک کولو او د درخواست کولو د څرنګوالي په اړه بشپړ معلومات وړاندې کوي.

## د DBS مختلف چکونه کوم دي او کوم معلومات شريکوي؟

د **«بنسټيز DBS سند»** (Basic DBS certificate) به د ټولو جدي جرمونو يا سرغړونو هر ډول هغه سوابق ښکاره کړي چې د اوږدې مودې د زنداني کېدلو لامل شوی دی.

د **«معياري DBS سند»** (Standard DBS certificate) به د ټولو جدي جرمونو يا په هغو پورې د اړوندو جرمي جرمونو سوابق په ډاګه کړي. که چېرې کوم کس د دوی د قانوني تعريف شوي «بيا پياوړي کولو د دورې» څخه بهر وګڼل شي، نو په دې صورت کې به ځيني پخواني جرمونه د انګلستان د قانون له مخې افشا نه شي.

د **«پرمختللي DBS سند»** (Enhanced DBS certificate) به ورته معلومات د معياري سند په توګه ښکاره کړي او  همدارنګه هغه نور ثبت شوي معلومات په ډاګه کوی چې د پوليسو مشر افسر يې اړوند بولي.

**يو «د پرمختللو منع شوو ليستونو د DBS سند»** (Enhanced with barred lists DBS certificate) د پرمختللي چک په توګه يې ښکاره کوي او  همدارنګه په منع شوي يا تور ليست کې د يو کس ټول سوابق راوباسي. منع شوی يا تور ليست د DBS لخوا د خلکو هغه ليست دی، چې يا يې له وړاندې زيان رسولی وي يا زيان منونکو ډلو ته د زيان رسولو احتمال لري.

چک شوي سوابق د پوليسو په ملي کمپيوټر کې ستاسو په اړه ټول شته سوابق دي چې په هغه کې د انټرپول (نړيوال) د عالي رتبه پوليسو د افسرانو ټولنه، د جرمي سوابق دفتر(ACRO)  او د هغو هيوادونو څخه چې له انګلستان سره د معلوماتو د شريکولو تړون لري شامل دي.

که چيرې کوم کس په هغه شي کې جرمي سوابق ولري، کوم چې په انګلستان کې جرم نه ګڼل کيږي، نو  هغه په سند کې نه افشا کيږي.

## زه څنګه کولی شم چې د DBS چک غوښتنه وکړم؟

١) د ابتدايي چک لپاره تاسو کولی شئ چې په خپله DBS ته په [انلاين بڼه ](#)درخواست وکړئ، يا يوه سازمان ته اجازه ورکړئ چې ستاسو غوښتنليک پر مخ يوسي. د DBS د چک د نورو ټولو ډولونو لپاره به د استخدام اداره تاسو ته د غوښتنليک فورمه واستوي. فورمه کيدلی شي چې د استخدام موسسې ته وسپارل شي، يا يو داسې متخصص سازمان ته چې د چکونو د "بشپړلو" واک لري وسپارل شي.

٢) فورمه په بشپړه توګه ډکه کړئ، د خپل ځان په اړه معلومات لکه چيرې اوسيږئ او د افشا کولو وړ جرمي سوابق چمتو کړئ. په فورمه کې بايد د انګلستان نيټه او د نوم فارميټ وکاروئ، دغه فورمه ځيني هغه تخنيکي اصطلاحات کاروي چې تاسو پرې باوري نه ياست. په فورمه کې تېروتنې د ځنډ لامل کيدلی شي، پس ممکن داسې کس درسره مرسته وکړي چې تاسو پرې باور لرئ ترڅو د فورمې په ډکولو کې ستاسو ملاتړ وکړي.
فورمه له تاسو څخه غوښتنه کوي چې د خپلو تيرو پنځو کلونو ادرسونه ورکړئ.
که چېرې تاسو د سفر کومه داسې اوږده موده لرئ چې د پناه غوښتنې له ادعا سره تړاو نه لري، نو تاسو کولی شئ ‘abroad’ (بهر کې) او د هيواد نيټه وليکئ. که چېرې تاسو په بهر کې ژوند کړی وي، نو بيا بايد تاسو د خپل مخکينی پتې په لومړۍ کرښه کې ‘overseas’ ( بهرنی) نيټه وليکئ، وروسته په ورکړل شويو برخو کې د هيواد نيټې وليکئ.

که چېرې تاسو کومه د بې کوره کېدو موده لرئ، یا د پناه غوښتنې په سفر کې یه استوګن ځایونو یا کمپونو کې اوسېدلې یاست، نو تاسو د دې مودې لپاره پته نه لرئ. تاسو کولی شئ په 'abroad' (بهر کې) 'no fixed abode' ( پرته له ثابت استوګنځای) ، یا 'no fixed abode – UK' (په انګلستان کې – پرته له ثابت استوګنځای) ولیکئ او هغه نیټې چې دا ستاسو وضعیت و. که چېرې تاسو د عصري غلامۍ (قاچاق) په کېوالی کې د توقیف یا داسې نورو شرایطو تجربه لرئ چې ممکن په فورمه کې یې ښودل ستونزمن وي، نو تاسو کولی شئ چې په اړه یې د DBS هیلپ لاین سره وړاندې له دې چې تاسو خپله فورمه وسپارئ اړیکه ونیسئ او له هغې څخه مشوره وغواړئ.

یادونه: که چېرې تاسو د کېوالی په توقیف کې یاست او دا موضوع د ادعا شوي یا محاکمه شوي جرم سره تړاو نه لري، نو دا کوم جرمي سوابق ندی او تاسو یې افشا کولو ته اړتیا نلرئ.

٣) تاسو باید د DBS له تصویب شوي لیست څخه د اصلي اسنادو د چمتو کولو له لارې د خپل هویت ثبوت وکړئ. که چېرې تاسو نشئ کولی چې دا چاره ترسره کړئ، نو په دې صورت کې دلته یو اختیار شتون چې د هغې له مخې باید تاسو بایمیټریک وکړئ.
که چېرې تاسو د بایمیټریک سره موافق شئ، نو په دې صورت کې یوه اداري پروسه شتون لري چې په کې د استخدام موسسه شامله ده، DBS ته وواياست چې تاسو غواړئ د ګوتو نښان وسپارئ او وروسته یې د پوستې له لارې تایید کړئ. DBS به د ځایي پولیسو سره اړیکه ونیسي او وروسته به تاسو ته بلنه درکړي چې بایمیټریک وکړئ (دا بلنه کیدلی شي چې د لیک یا تلیفون له لارې وي). دا پروسه یو څه وخت نیسي.
دا ستاسو لپاره مهمه ده چې پوه شئ چې د پولیسو سره کوم تړاو په تاسو باندې د شک له کبله نه رامنځته کیږي. له همدې امله روزل شویو افسرانو ته اړتیا ده، ترڅو دا طرزالعمل په داسې طریقه بشپړه کړي چې ستاسو هویت او سوابق خوندي کړي. تاسو له پولیسو سره د یو داسې کس په توګه ښکیل یاست چې د کار کولو یا په رضاکارانه لارې د مرستې په لټه کې یاست، له همدې امله باید تاسو یوه مثبت اړیکه تجربه کړئ. که چېرې د تاسو لپاره په عملي یا احساساتي ډول دا ستونزمن وي چې د بایمیټریک لپاره د پولیسو سټیشن ته لاړ شئ، یا د ملاقات نیټه پوره کړئ، نو تاسو کولی شئ دا څرګنده کړئ او پوښتنه وکړئ، چې ایا کوم بل بدیل شته او که نه. تاسو کولی شئ له ځان سره بل څوک هم ولرئ.

٤) کله چې ستاسو فورمه وسپارل شي او ستاسو هویت تایید شي، نو د DBS خدمت ستاسو لخوا چمتو شوي معلومات کاروي، ترڅو د ستونزمنو قانوني مقرراتو لاندې د پولیسو سوابق وګوري. دوی شته معلومات ګوري او د هغه شي په اړه هغه قانوني مقررات پلي کوي چې باید ښکاره شي او یو داسې سند چاپوي، کوم چې دا ښکاره کوي چې د هغه رول لپاره چې تاسو یې غوښتنه کوئ اړوند دي. دا سند به تاسو ته د پوستې له لارې د ولیږل شي.
ستاسو استخدام کونکی به د سند د د لیدلو غوښتنه وکړي؛ تاسو په دې وخت کې د سند د ښکاره کولو اړتیا نه لرئ، مګر که دا کار ونه کړئ، نو دوی نشي کولی چې تاسو استخدام کړي. که چیرې د استخدام مدیر وغواړي چې له تاسو سره ستاسو د سند په اړه د کومو معلوماتو په اړه خبرې وکړي، نو دا کومه ستونزه نه لري چې هغه په داسې ځای او محل کې ترسره شي چې د تاسو لپاره مناسب وي. تاسو ممکن له غونډې وړاندې مشوره وغواړئ، یا وغواړئ چې د مرستې لپاره له ځان سره یو باوري کس راولي، البته په ځانګړې توګه هغه وخت چې د ژبې ستونزه یا کلتوري خنډونه شتون ولري.

٥) د DBS په اپډیټو خدمتونو کې نوم لیکنې ته پام وکړئ. دا به ستاسو د DBS سند اپډیټ وساتي او په راتلونکي کې به ګمارونکو ته اجازه ورکړي چې ستاسو سند وګوري. که چېرې تاسو د یو داسې نوي رول لپاره غوښتنه وکړئ چې د چک ورته کچې ته اړتیا لري، نو استخدام کوونکی کولی شي د اپډیټ سیسټم له لارې هغه چک کړي، نه دا چې له تاسو څخه وغواړي چې له سره ټوله پروسه طی کړئ. که چېرې تاسو د DBS د غوښتنلیک شمیره ولرئ، نو تاسو کولی شئ ژر تر ژره د سند د صادریدو له نیټې څخه وروسته تر 30 ورځو پورې (دا د لومړني چک لپاره د منلو وړ ده) غوښتنه وکړئ.

## د DBS له لارې مرسته

تاسو کولی شئ په لاندې شرایطو کې د DBS د پوښتنو له کرښې سره اړیکه ونیسئ (customerservices@dbs.gov.uk 03000 200 190)

- که چېرې تاسو په دې اړه کومه اندېښنه لرئ، چې تاسو باید په غوښتنلیک کې څه شی ولیکئ
- که چېرې تاسو نه پوهیږئ چې ایا پوښتنه په ستاسو پورې اړه لري او که نه
- که چېرې تاسو د هویت داسې سند لرئ چې په تایید شوي لیست کې شامل نه دی
- که چېرې تاسو د DBS د چک لپاره د درخواست کولو پرمهال کومه بله پوښتنه لرئ.

که چېرې تاسو ترانسجینډر یاست او نه غواړئ چې له خپل پخواني هویت څخه توضیحات کوم استخدام کونکي ته ښکاره کړئ، نو تاسو کولی شئ د DBS ترانسجینډر غوښتنلیکونو له ټیم سره اړیکه ونیسئ.

## مسألې او اندېښنې

### د نړیوالو چکونو سره تړلې مسألې

که چېرې تاسو نه شئ کولی استخدام کونکي لپاره له بهر څخه د ښه چلند سند د درلودلو اړتیاوې پوره کړئ، نو په دې صورت کې تاسو کولی شئ د معافیت غوښتنه وکړئ. د دې مانا دا ده چې استخدام کوونکی به د نورو داسي معلوماتو په لټه کې شي، ترڅو پر تاسو باندې خپل باور پیاوړی کړي. دوی ممکن د خطر ارزونه ترسره کړي، اضافي حوالې ته لاسرسی وموميږ، رول بدل کړي، له تاسو څخه وغواړي چې د ځان افشاء کول لاسلیک کړي، یا لوړه وکړئ.

د ځان په افشاء کولو کې دا شامل دي چې تاسو باید یو داسې لاسلیک شوی لیکلی لیک ولرئ، کوم چې دا ثابته کړي چې تاسو کوم جرمي سوابق نلرئ، یا خپل هغه جرمي سوابق شریک کړئ کوم چې باید په قانوني توګه افشا شي.

لوړه کول دې ته ورته دي، مګر بیان شاهد لري، ټاپه شوی او د یو وکیل یا «د لوړې د کمیشنر» لخوا په EU کې ثبت شوی. ډېری استخدام کونکي د دې امکاناتو څخه خبر ندي.

### که چېرې له انلاین نوم لیکنې سره ستونزه لرئ

که چېرې تاسو د DBS د آنلاین چک لپاره غوښتنه کوئ او تاسو نه شئ کولی پر خپلې ټاکل شوې نیټې باندې د ستونزې له امله خپل غوښتنلیک پر مخ یوسئ، یا دا چې تاسو نه شئ کولی چې د ښه شخصیت سند چمتو کړئ، نو کولی شئ چې مرسته وغواړئ. تاسو کولی شئ د DBS چک کولو له سازمان سره خپله اندیښنه څرګنده کړئ یا د DBS، ستاسو له استخدام کونکي، یو مهم کارمند یا له وکیل څخه ملاتړ وغواړئ. دا ستونزې ځیني وختونه د د بریښنایی سیستمونو په جوړولو کې د ډیزاین د مسآلو په پایله کې رامنځته کیږي یا دا چې سیستم له تاسو څخه غواړي چې تاسو باید هغه ځایونه په ځانګړي ډول ثبت کړئ، چېرې چې پاتې شوي یاست. دا ستونزې معمولا حل کیدی شي.

### که چېرې کوم جرمي سوابق ولرئ

که چېرې تاسو جرمي سوابق لرئ، نو Unlock هغه خیلواکه خیریه موسسه ده چې د باوري خلکو لپاره د باور وړ معلومات او د مشورې د ورکړې خدمتونه وړاندې کوي. دوی کولی شي چې هغو کارمندانو او د بشري حقونو متخصصینو ته خپلواکه او بې طرفه مشوره او ملاتړ چمتو کړي، څوک چې د جرمي سوابق معلوماتو پر بنسټ د استخدام پریکړې کوي.

دغه معلوماتي پاڼه د Migration Yorkshire له خوا د 2022 کال د ډسمبر په میاشت کې لیکل شوې وه. که چېرې تاسو کومه پوښتنه لرئ، نو مهرباني وکړئ په دغه پته او شمیره admin@migrationyorkshire.org.uk یا 0113 378 8188 اړیکه ونیسئ او موږ به له ستاسو سره په مرستې کې پوره هڅه وکړو.